# جُماتونه جوړول د انبیائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلَام سُنَّت دي

**17-August-2023**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 17 اګست، 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# جُماتونه جوړول د انبیائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام سُنَّت دي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ(اسلامک ریسرچ سنٹر)

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ

اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا حَبِيۡبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيۡكَ يَا نَبِيَّ الله    وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ يَا نُوۡرَ الله

نَوَيۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، چې ياد مو وي نو د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي.

ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

خوږ آقا، مکّي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله تاسو مؤذِّن نه اذان اورئ نو (د اذان جواب ورکوئ او) هُم هغسې وائے، څنګه چې مؤذِّن وائي، بيا په ما درود اُووائے! ځکه چې څوک په ما باندې يو ځل دُرُود اُووائي، **الله** پاک په هغه باندې 10 رحمتونه نازِلوي. (1)

مايوس کيوں ہو عاصِيو! تم حوصَلہ رکھو | رَب کی عطا سے انکا کرم ہے سبھی کے ساتھ

[1] ...مسلم، کتاب الصلاة، باب استحباب القول مثل قول...الخ، صفحه:151، حديث:384۔

خطبہ، اذاں، نماز، عبادت کوئی سی ہو | ذکر نبی ضرور ہے ہر بندگی کے ساتھ (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتینے نیت بهترین عبادت دے. (2)

اے عاشقانِ رسول! نیك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي. ❀ د عِلمِ دِین حاصلولو نِيَّت اوکړئ او نور دا نیتونه اوکړئ چې ❀ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بیان اورم. ❀ چې څومره کیدے شي د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِیَّات په شکل کښې کښینم ❀ د علم زده کولو د پاره به پوره بیان اورم ❀ د بیان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❀ د خپلې اصلاح د پاره به بیان اورم ❀ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

## د هجرت سفر، د جُماتونو جوړولو سفر

زمونږه خوږ نبي مکّي مَدَني محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تقریباً د 40 کالو په عمر مبارك کښې د نبوت اعلان اوفرمائیلو، د هغې نه پس 13 کالو پورې په مکه مکرمه کښې تشریف فرما اوسیدلو او د نیکئ دعوت ئې ورکولو. تقریباً د 53 کاله په عُمر کښې ئې د **الله** پاک په

---

1 ...وسائل بخشش، صفحه:211۔

2 ...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

حُکم مکه مکرمه پرېښوده او د مدینے منورے طرف ته ئې هجرت اُوفرمائيلو.

د ربیعُ الاول 12 تاریخ وو [1] چې کله خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپل یارِ غار و یارِ مزار حضرت سَیِّدُنا ابوبکر صدیق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ سره د عمرو بن عَوف قبیلے ته تشریف راوړلو. دا ځائے د مدینے نه 3 میله فاصله کښې وو، خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دلته یو څو ورځې اوسیدل اختیار کړل او په دې مقام چې هغوئي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کوم وړومبے کار اوکړو هغه دا وو چې یو ځائے ئې خوښ کړو او په هغه ځائے ئې د جُمات بنیاد کېښودو.

[2] دا د تاریخِ اسلام وړومبے جمات وو چې د **مسجدِ قُبا** په نوم یادیږي. د دې جُمات په فضیلت کښې د **اللہ** پاک دا مبارک فرمان د قرآنِ کریم په پاڼو کښې ځلیږي:

**لَمَسْجِدٌ اُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ اَوَّلِ يَوْمٍ اَحَقُّ اَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ؕ** (پارہ:11، التوبہ:108)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: بیشکه هغه جمات د کوم بُنیاد چې د وړومبۍ ورځې نه په پرهیزګارۍ کېښودلے شوے دے، هغه د دې حقدار دے چې ته هلته اودریږې.

نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مسجدِ قُبا په مقام 14 یا 24 ورځې اوسیدل اختیار کړل، په دومره ورځو کښې د **مسجدِ قُبا** تعمیر پوره شوے وو، بیا خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مدینے مُنَوّرے په لور روان شولو، په لاره کښې ئې د قبیله بني سالِم سره پړاؤ اوکړو، دلته د **اللہ** پاک آخري نبي محمدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وړومبۍ جُمعه ادا کړه، دا جُمعه چې په کوم مقام ادا شوې وه [هغه جمات قرار شو]، هغه مبارک جمات اوس هُم د **مسجدِ جُمعه** په نوم مشهور دے. [3]

---

1 ... مدارج النبوۃ، قسمِ دوم، باب چهارم، جلد:2، صفحه:63۔

2 ... دلائل النبوۃ للبیهقی، باب من استقبل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ... الخ، جلد:2، صفحه:500 خلاصةً۔

3 ... سیرتِ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، صفحه:175 بتغیر قلیل۔

بيا خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مدينے مُنَوّرے ته تشريف راوړلو، دلته چې خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شروع کښې کوم کارونه سر انجام کړل په هغې کښې يو اهم ترين کار دا وو چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يوه زمکه واخستله او په خپلو مبارکو لاسونو ئې هلته د جُمات بنياد کيښودلو، دا هغه جُمات دے چې د دې امام بل څوک نه بلکه پخپله د **اللّٰه** پاک محبوب، امامُ الانبياء صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وو، او دا **مسجدِ نبوی شريف** دے چې د دُنيا د دويم افضل جُمات کيدلو اعزاز لري.

مسجد نبوی کے محراب اور منبر پر درود | سبز گنبد اور ہر مینار پر لاکھوں سلام

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا زمونږه د خوږ نبي، مکّي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هجرت څومره ښکلے انداز وو چې هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هجرت په لاره کښې چرته هُم پړاؤ فرمائيلو هلته به ئې د يو جُمات بنياد هُم ايښودلو ۞ چې قُبا ته ئې تشريف راوړو نو د **مسجدِ قُبا** بنياد ئې کيښودو ۞ چې قبيلهٔ بنو سالِم ته ئې تشريف راوړلو نو هلته ئې وړومبئ جُمعه ادا کړه او هلته **مسجدِ جُمعه** قائم شو ۞ بيا ئې چې مدينے مُنَوّرے ته تشريف راوړلو نو دلته ئې هُم د جُمات بنياد کيښودو. د دې نه معلومه شوه چې زمونږه د خوږ نبي مکّي مَدَني محمدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نظر مبارک کښې د جُمات څومره اهميت دے.

## جُمات د معاشرے مرکز دے

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** جُمات زمونږه بنيادي مرکز دے. د مسلمانانو هغه ښار، محله يا کلے نيمګړے دے چرته چې جُمات نه وي. دا د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام يو ښکلے وصف دے چې دې د اوچتې مرتبے حضراتو به چې چرته هُم تشريف وړلو هلته به ئې د ټولو نه وړومبے د جُمات بنياد ايښودلو، تر دې چې انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام به د خپل کور جوړولو فکر نه کولو بلکه هغوئي عَلَيۡهِمُ السَّلَام به د جُمات جوړولو فکر لرلو.

# جُماتونه جوړول د انبیائے کرامو عَلَیۡهِمُ السَّلَام سُنَّت دي

❁ حضرتِ آدم عَلَیۡهِ السَّلَام چې کله دنیا ته تشریف راوړلو نو هٰغه وخت خو د دُنیا په سر د انسانانو یوه آبادي هُم نه وه، بس دوئي دوه هستئ یو حضرت سَیِّدُنا آدم عَلَیۡهِ السَّلَام او بله سیدتُنا حَوّا رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا وه. حضرتِ آدم عَلَیۡهِ السَّلَام سراندیپ [موجوده سري لنکا] ته تشریف راوړے وو خو هغوئي سره دلته راتلو سره د جُمات جوړلو فکر وو، تر دې چې هغوئي عَلَیۡهِ السَّلَام مکے مکرمے ته تشریف یوړلو او هلته ئې **کعبه شریفه** تعمیر کړه ❁ هُم دغسې د نوح عَلَیۡهِ السَّلَام د طوفان نه پس حضرتِ ابراهیم عَلَیۡهِ السَّلَام دوباره د **کعبے شریفې** تعمیر اوکړو ❁ **مسجدِ اَقْصیٰ** چرته چې د ټولو نبیانو سردار مکّي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نبیانو امامت کړے وو د دغه مبارک جُمات بنیاد حضرتِ سَیِّدُنا ابراهیم عَلَیۡهِ السَّلَام ایښودے وو (وروستو بیا حضرتِ سُلَیمان عَلَیۡهِ السَّلَام د هغې تعمیر مکمل کړو). (1)

## ستاسو کور کوم دے؟

د اللّٰه پاک نبي حضرت سَیِّدُنا عیسٰی عَلَیۡهِ السَّلَام هٰغه هستي دے چې د ځان دپاره ئې هېڅ کور جوړ کړے نه وو، یو ځل چا د هغوئي عَلَیۡهِ السَّلَام نه تپوس اوکړو چې ستاسو کور کوم دے؟ هغوئي عَلَیۡهِ السَّلَام اُوفرمائیل: زما کور جُمات دے.(2)

## د زمکې بهترینه ټکړه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د جمات د اهمیت اندازه د دې خبرې نه اولګوئ چې جُمات د زمکې د ټولو بهترینه حِصَّه قرار کړے شوے دے. هسې خو ټوله زمکه د اللّٰه پاک ده، د ټولې زمکې خالق، د ووه واړه آسمانونو خالِق هُم یو رَبِّ قدِیر دے خو د

---

1...انس الجلیل لمجیر الدین حنبلی، جلد:1، صفحه:71 خلاصةً۔

2...مصنف ابنِ ابی شیبه، کتاب الزہد، باب ما قالوا فی البکاء من...الخ، جلد:8، صفحه:321، حدیث:187۔

زمکي هٔغه ټکړه کومه چې د جُمات دپاره خاص کړے شوې وي، د زمکې د هٔغه حصے شان هُم ډیر ښکلے او عجیبه دے. صحابئ رسول حضرت انس بن مالِک رَضِیَ اللہ عنہ فرمائي: یو ځل حضرت جبریل امین عَلَیۡهِ السَّلَام بارګاهِ رسالت کښې حاضِر شو نو رسولِ اکرم صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم هغوئي ته اُوفرمائیل: اَیُّ البقاعِ خَیۡرٌ یعنی اے جبریل! د زمکې کومه حِصَّه بهتره ده؟ حضرت جبریل عَلَیۡهِ السَّلَام عرض اوکړو: لَا اَدۡرِی یعنی یارسولَ الله (صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم)! ما ته نه ده معلومه. حضور نبي کریم صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: بیا د **الله** کریم نه په دې باره کښې سُوال اوکړه! او معلومه کړه چې د زمکې کومه حِصَّه بهتره او محبوبه ده.

دا ئې چې واوریدل نو (د بارګاه اِلٰهی د آدابو د خیال په وجه) حضرت جبریل عَلَیۡهِ السَّلَام په ژړا شولو او عرض ئې اوکړو: یارسولَ الله (صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم)! مونږه ته چرته حق رسي چې د **الله** پاک نه د څه تپوس اوکړو، هغه چې څه غواړي مونږ ته علم عطا کوي. بیا حضرت جبریل عَلَیۡهِ السَّلَام آسمانونو ته لاړلو، څه ساعت پس بیرته راغلو او عرض ئې اوکړو: خَیۡرُ الۡبُقَاعِ اَلۡمَسَاجِدُ بُیُوتُ اللّٰهِ فِی الۡاَرۡضِ یعنی یارسولَ الله صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم! د زمکې بهترینه حِصَّه جُماتونه دي، دا په زمکه د **الله** پاک کورونه دي.

رسولِ اکرم صَلَّی اللہ عَلَیۡهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم بیا تپوس اوکړلو: اَیُّ الۡبُقَاعِ شَرٌّ یعنی اے جبریل! د زمکې بدترینه حِصَّه کومه ده؟ حضرت جبریل عَلَیۡهِ السَّلَام بیا آسمان ته لاړلو، څه ساعت پس واپس راغلو او عرض ئې اوکړو: شَرُّ الۡبُقَاعِ الۡاَسۡوَاقُ یعنی د زمکې بدترینه حِصّه بازارونه دي.[1]

حکیم الامّت، مفتی احمدیار خان نعیمی رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه د هُم دې مفهوم د یو حدیثِ پاک په شرح کښې لیکي: په جُماتونو کښې اکثر د ذِکۡرُ الله (مثلاً: لـمونځ، جَمعه، خطبه، بیان کولو او اوریدلو وغیره) دپاره خلق حاضریږي او په بازارونو کښې اکثر دروغ، دوکه، غیبت وغیره

---

1 ...معجمِ اوسط، جلد:5، صفحه:223، حدیث:7140۔

(ګناهونه زیات کیږي، ځکه جُماتونه بهترین مقامونه دي او بازارونه د زمکې بدترینې حِصّے دي).(1)

## اولیائے کرام او د جُماتونو تعمیر

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو! اے د اولیاء عاشقانو!** جُماتونه جوړول چې څنګه د انبیائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام سُنّت دي هُم دغسې د اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ الله مبارکه طریقه هُم ده. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه د اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ الله هُم دا ښکلے انداز دے چې چرته به ئې تشریف یوړلو هلته به ئې ضرورتاً جُمات هُم جوړولو بلکه رښتیا خبره خو دا ده چې نن مونږه کوڅه په کوڅه کوم جُماتونه وِینو دا د انبیائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام او اولیائے کرامو رَحِمَهُمُ الله فیضان دے.

## محدِّثِ اعظم پاکستان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه او جماتونه جوړول

حضور مُحَدِّثِ اعظم پاکستان حضرت مولانا سردار احمد رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه به د جُماتونو جوړولو ډیر شوق لرلو. هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه فیصل آباد (پاکستان) ته تشریف راوړلو نه پس ډیر جُماتونه جوړ کړل او د ډیرو جماتونو بنیاد ئې کیښودو.

دا یقیناً د حضور مُحَدِّثِ اعظم پاکستان رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه کرامت وو چې هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه به د سفر په دوران کښې چرته په غیر آباد ځائے کښې لمونځ اوکړو نو هٰغه ځائے به آباد هُم شو او هلته به جُمات هُم جوړ شو. یو ځل هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه د سفر په دوران کښې اَدَّا مُرِید والا (ضلع فیصل آباد) کښې د مازدیګر لمونځ ادا کړو، د نزدې نهر په اوبو ئې اودس اوکړو، هٰغه وخت دغلته نه آبادي وه او نه څه جُمات وو. هغوئي په یو خالي ځائے لمونځ ادا کړو، د لمانځه نه پس ئې اُوفرمائیل: ”څه ښه به وي چې دلته د سُنّیانو یو

---

1...مرآۃالمناجیح، جلد:1، صفحه:433۔

جُمات او يوه مدرسه وي! چې دا ځائے آباد شي." اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اوس هغه ځائے آباد دے او هلته د عاشقانِ رسول يوه مدرسه او يو شاندار جُمات جوړ شوے دے. (1)

## د لـمونځ ادا کولو په برکت جُمات جوړ شو

هُم دغسې يو ځل حضور مُحَدِّثِ اعظم پاکستان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه په يوه ديني جلسه کښې شرکت کولو دپاره ساهيوال ته تشريف وړے وو، واپسئ کښې د خانيوال په طرف په سفر راروان وو، په دغه سفر کښې هغوئي د سحر لـمونځ د خانيوال په اسټيشن ادا کړو، (هٰغه ورځو کښې د خانيوال په اسټيشن کښې جُمات نه وو). اَلْحَمْدُ لِلّٰه! حضور مُحَدِّثِ اعظم پاکستان رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡه چې په کوم ځائے لـمونځ ادا کړے وو اوس هلته عاليشان جُمات موجود دے. (2)

## دعوتِ اسلامي جُمات جوړ کړئ تحريک دے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اے د اولياء عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تحريک دعوت اسلامي فيضانِ انبيائے کرام هُم دے، فيضان صحابه و اهلِ بيت هُم دے او فيضانِ اولياء هُم دے. څنګه به چې انبيائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام او اوليائے کرامو جُماتونه جوړول، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هغوئي په برکت سره **دعوتِ اسلامي** هُم **جُمات جوړ کړئ تحريک دے** او لـمونځ ګُزاره زيات کړئ تحريک هُم دے يعني **دعوتِ اسلامي** جُماتونه جوړوي هُم او بيا د هغې د آبادولو دپاره د لـمونځ ګُزارو د زياتولو هُم پوره کوشش کوي.

## د شعبه خُدَّامُ المَساجِد والمَدارِس تعارُف

دعوتِ اسلامی د 80 نه زياتو شعبه جاتو کښې د سنّتو په خدمت کښې مشغول دے. په هم دې شعبه جاتو کښې يوه شعبه خُدّامُ المَساجد والمَدارس هُم ده. د دې شعبے کار

---

1...حياتِ مُحَدِّثِ اَعْظَم، صفحه:117۔

2...حياتِ محدثِ اعظم، صفحه:117۔

صرف جُماتونه او مدرسے جوړول دي.

## د شعبه خُدَّام المَساجد کارکردګي

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د دعوت اسلامی زیر انتظام تر اوسه پورې ټوټل: 4533 جُماتونه جوړ شوي دي او نور د 931 جُماتونه ځائے اخستے شوے دے. د يو جُمات جوړولو کم نه کم خرچه د 18 نه 20 لاکھ پورې وي. په تيرو مياشتو کښې چې کله غير مسلمو قرآن پاک معاذالله اوسيزلو نو اميراهلسنت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د خپل مذمَّتي بيان ريکارډ کولو په دوران کښې اُوفرمائيل: چې مونږ به د قرآن پاک د 540 رکوع په نسبت اِنۡ شَآءَاللّٰه 540 جُماتونه د فيضانِ قرآن په نوم جوړوو او ورسره ئې دا اعلان هُم اُوفرمائيلو: چې د رمضان المُبارک نه مخکښې په هغې کښې لمونځونه هُم شروع کول دي. اِنۡ شَآءَ الله الۡكَرِيۡم! اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه تر اوسه پورې د فيضانِ قرآن جُماتونو دپاره 318 ځايونه فائنل شوي دي او په 6 ځايونو کښې باقاعده لمونځونه هُم شروع شوي دي.

الله کرم ایسا کرے تجھ پے جہاں میں    اے دعوت اسلامی تری دھوم مچی ہو

## د جُمات جوړولو فضيلت

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! جُماتونه جوړول يا د دې په تعمير کښې حصّه اخستل ډير د فضيلت کار دے. **الله** پاک په قرآنِ کريم کښې اِرشاد فرمائي:

اِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنۡ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَ الۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ وَ اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَ اٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمۡ يَخۡشَ اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰۤى اُولٰٓئِكَ اَنۡ يَّكُوۡنُوۡا مِنَ الۡمُهۡتَدِيۡنَ ﴿۱۸﴾

[مَفہُوم] ترجمۂ کنزُالعِرفان: د **الله** جُماتونه هُم هغه خلق آبادوي کوم چې په **الله** او د قيامت په ورځ ايمان راوړي او لمونځ قائموي او زکوٰة ورکوي او د **الله** نه سِوا د هيڅ چا نه ويريږي نو نزدې ده چې دا خلق به د هدايت والؤ نه وي.

مشهور مُفَسِّرِ قرآن حکيمُ الاُمّت حضرت مفتی احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې آيت لاندې فرمائي: (معلومه شوه چې) د جُماتونو جوړولو، د هغې د آبادولو يا په هغې کښې د جَمعې سره د لـمونځ ادا کولو شوق د صحيح مُؤمِن کيدلو نښه ده، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيْم! د داسې خلقو خاتِمه به په ايمان کيږي.(1)

## د جُمات جوړولو په فضائلو دوه حديثونه

﴿1﴾ د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوک چې د **الله** پاک دپاره جُمات جوړ کړي **الله** پاک به د هغه دپاره په جَنَّت کښې کور جوړوي. (2)

﴿2﴾ رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې چا جُمات د دې دپاره جوړ کړو چې په هغې کښې د **الله** پاک ذِکر اوکړے شي نو **الله** پاک به د هغه دپاره په جَنَّت کښې کور جوړوي. (3)

**الله** پاک دې مونږ ته هُم د جُمات جوړولو توفيق راکړي، که **الله** پاک چا ته وس ورکړے وي او پوره جُمات جوړ کړي نو ډيره د سعادت خبره ده، که څوک دومره وس نه لري نو خير!!!! **الله** پاک چې خومره توفيق درکړے دے د جُمات په تعمير او ترقئ کښې هغه همره حصّه واخلئ! د جُمات د تعمير دپاره شګه، سيمنټ، ټائلونه وغيره ورکول، د جُمات اودس خانه جوړول، مِنبر جوړول، د صفونو انتظام کول وغيره دا ټول د جُمات د تعمير او ترقئ حصّه ده.

---

1...تفسير نعيمی، پاره:10، سورۂ توبہ، زيرِ آيت: 18، جلد:10، صفحہ:204۔

2...مسلم، کتاب المساجد، باب فَضْلُ بِنَاءَ الْمَسَاجِد...الخ، صفحه:198197، حديث:533 ملتقطًا۔

3...ابن ماجه، کتاب المساجد والجماعات، باب من بنی لله مسجدا، صفحه:127، حديث:735۔

## جُمات سره د تعلق ضرورت او اَهَمِّيَّت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! نن چې د جُماتونو جوړولو څومره ضرورت دے، د دې نه په څو چنده زیات د جُماتونو آبادولو [یعنې په هغې کښې د لـمونځونو، تلاوت، ذِکر و اَذکار کوونکو شمیر زیاتولو] ضرورت دے خو بد قسمتئ سره نن زمونږه اکثریت د جُماتونو نه لرې اوسي، نن مونږه مغلُوبه او کُفّار غالِب دي، نن مونږه دروغو، غِیبت، چُغلي، وعده خلافئ، دوکے، لُوټ مار، ډاکه، غلا، کورنو بے اتفاقو او نورو ډیرو خرابو کښې اخته یُو. که غور اوکړے شي نو د دې یو اهم ترین سبب د خپلو مرکزونو یعنې جُماتونو نه لرې اوسیدل دي. هُم دا وجه ده چې نن د مسلمانانو ضمیر مړ شوے دے، هُم دا وجه ده چې نن د انسانانو د زړونو نه انسانیت په ختمیدو دے.

خوږو او مُحترمو اسلامي ورو نـړو! جُماتونه زمونږه مرکزونه دي تر څو چې مسلمانانو د خپل مرکز سره تعلق مضبوط ساتلو نو مسلمانان غالب وو، او د کله نه چې مسلمانانو د خپلو مرکزونو یعنې جُماتونو نه لرې والے اختیار کړے دے مسلمانان مخ په ښکته روان دي.

**الله** پاک دې مونږ ته د خپلو مرکزوونو یعنې جُماتونو سره د تعلق مضبوطولو توفیق را کړي.

## د صحابۂ کرامو او بزرگانِ دین مختصر واقعات

❁ حضرتِ ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ صحابئ رسول دے، د هغوئي یو وړوکے څوئ وو، هغه سره به دوئي ډیره مینه کوله. یو ځل د هغوئي دغه څوئ چې نوم ئې ابو عُمَیر وو، بیمار شو، بیماري ئې زیاته شوه، حضرتِ ابو طلحه انصاري رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره د هغوئي ډیر فکر پیدا شو تر دې چې د څوئ په غم کښې هغوئي هُم وِیلي کیدو وِیلي کیدو باندې کمزورے شولو خو د جُمات سره محبت او تعلق ئې اوګورئ! په کومو ورځو کښې چې د

هغوئي شهزاده ابُو عُمَير بيمار وو، په هغه ورځو کښې هُم د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ معمول دا وو چې د سحر لـمانځه له به جُمات ته لاړلو نو د نِصۡفُ النهار (يعني زوال) پورې به په جُمات کښې وو، بيا به کور ته راغلو، چې د ماسپښين وخت به شو نو بيا به جمات ته حاضر شولو او د ماسپښين نه مازديګره پورې به په جُمات کښې وو بيا د مازديګر نه تر ماښامه پورې تر دې چې د ماسخُتن لـمونځ جَمعې سره ادا کولو نه پس به کور ته راتلو ❁ دغسې يو نابينا صحابي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ وو، د سترګو نعمت ئې هُم نه لرلو، او څوک داسې کس هُم نه وو چې د هغوئي لاس ئې نيولے وے او جُمات ته ئې رسولے وے، د شپې به تِياره هُم وه، په لار کښې به د مار، لړم وغيره خطره هُم وه، د هغې باوجود به هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ جُمات سره داسې محبت لرلو چې پينځه وخته لـمونځونو له به جُمات ته حاضريدلو او د جَمعې سره به ئې لـمونځونه ادا کول. (1) ❁ اعلىٰ حضرت امامِ اهلِ سُنّت، شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به هُم د جُمات سره ډير محبت لرلو، يو ځل هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دومره بيمار شولو چې وصيت نامه ئې هُم اوليکله خو د هغې باوجود ئې داسې باکماله ايماني جذبه لرله چې د بيمارئ په ورځو کښې به هُم جُمات ته حاضريدلو او ټول لـمونځونه به ئې د جَمعې سره ادا کول، هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به په کُرسئ کښيناستلو او څلورو کسانو به اوچت کړلو او جُمات ته به ئې رسوَلو. (2)

سُبۡحٰنَ الله! اندازه اوکړئ چې زمونږه د اسلافو د جُمات سره څومره محبت او څومره عظيم الشانه جذبه وه او يو مونږه يُو چې که معمولي مو په سر درد شي يا راباندې معمولي تبه راشي نو د جُمات د حاضرئ نه محرومه شو بلکه څومره به داسې خلق هُم وي چې د تبې وغيره په سبب به لـمونځونه هُم قضا کوي!!! که بازار ته تلل پيښ شي، يا په

---

1...ابو داؤد، کتاب الصلاة، باب فی التشدید فی ترک الجماعة، صفحه: 101، حدیث: 552 ماخوذًا۔

2...فتاویٰ رضویه، جلد: 9، صفحه: 547 بتغير قليل۔

نوکرئ وي، يا په څه کار وي نو هُم د جُمات د حاضرئ نه محرومه پاتې شي او دغسې د جَمعې د لـمانځه ادا کولو په صورت کښې چې کوم د 27 لـمونځونو ثواب ميلاويدو د هغې نه هُم محرومه شي. **الله** پاک دې زمونږ په کمزوري حال رحم اُوفرمائي. او مونږ ته دې جُماتونو سره پوخ محبت او تعلق رانصيب کړي.

## جُمات سره د تعلق فضائل

❁ د **الله** پاک خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: کوم بنده چې جُمات ته ځي او د جَمعې لـمونځ ادا کوي، جُمات ته د تللو او راتللو په وخت د هغه په هر هر قدم باندې يوه يوه ګناه معاف کيږي او يوه يوه نيکي ليکلے کيږي. (1) ❁ د **بُخاري او مُسلِم** په حديث شريف کښې دي: د قيامت په ورځ به 7 قِسمه خلق د عرشِ اِلٰهی په سوري [سايه] کښې وي، په هغوئي کښې يو هغه دے د چا زړه چې په جُمات کښې لګيدلے اوسي. (2)

سُبْحٰنَ الله! **الله** پاک دې مونږ ته هُم جُمات سره محبت او مضبوط تعلق رانصيب کړي چې د قيامت په هٰغه سخته ورځ د عرش سورے رانصيب شي.

❁ يو بل ايمان تازه کوونکے **حديث شريف** واورئ! رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څنګه چې يو کس ورک شي (او د هغه د کور خلق هغه لټوي خو د هغه هيڅ پته نه لګي، بيا ډيره موده پس هغه ورک شوے کس خپل کور ته بيرته راشي نو) خومره چې د هغه د کور خلق خوشحاليږي، **الله** پاک د هٰغه بنده نه هُم دومره خوشحاليږي کوم [بنده] چې د ذِکر او لـمونځ دپاره جُمات خپل کور جوړ کړي. (3)

1...مسندِ امام احمد، جلد:3، صفحه:560، حديث:6758۔

2...بخاری، کتاب الاذن، باب من جلس فی المسجد ينتظر الصلاۃ...الخ، صفحه:225، حديث:660 ملتقطًا۔

3...ابنِ ماجه، کتاب المساجد و الجماعت، باب لزوم المساجد و انتظار الصلاۃ، صفحه:136، حديث:800۔

**اللّٰه** پاک دې مونږ ته جُماتونو سره محبت رانصیب کړي. آمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰه عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اللّٰه والؤ مبارک عادتونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! زمونږه د بزرګانِ دینو، صحابهٔ کرامو، تابِعِینو او نورو نیکو خلقو سیرت چې اولولئ نو معلومه شي چې دې **اللّٰه** والؤ به د جُماتونو سره څنګه تعلق او محبت لرلو! راځئ چې د هغوئي د دې شکلو عادتونو په باره کښې واورو:

## ﴿1﴾ وړومبے عادت: زیات وخت په جمات کښې تیرول

❁ حضرت عطاء بن ابو رَباح رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه د شلویښتو کالو پورې جُمات خپل کور ګرځولے وو (یعنې په جمات کښې به اوسیدلو، بے ضرورته به هډو هُم د جُمات نه وتلو) ❁ حضرت مالک بن دینار رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه (جُمات سره دومره محبت لرلو، چې دوئي) به فرمائیل: که طبعي حاجتونه نه وے نو زه به د جُمات نه کله هُم نه وے وتلے ❁ حضرت ابو صادق رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه به فرمائیل: جُمات کښې ناسته لا زمه اونیسئ ځکه چې په جُمات کښې ناسته د نبیانو طریقه ده. (1)

کاش چې مونږ ته هُم په جُمات کښې د زیات وخت کښیناستلو توفیق رانصیب شي.

## جُمات خپل کور جوړ کړئ!

د حضرتِ ابنِ عُمَیر رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه رِوایت دے چې رسولِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: په دُنیا کښې میلمانه جوړ شوي اوسئ او جُمات خپل کور جوړ کړئ (یعنې څنګه چې په کور کښې زړه لګي، په جُمات کښې هُم دغسې زړه اولګوئ)! (2)

---

1...تَنۡبِیۡهُ الۡمُغۡتَرِّیۡن، الباب الثالث من جملة اخری من الاخلاق صفحه:137 بتقدیم و تاخیر۔

2...حلیة الاولیاء، جلد:1، صفحه:438، حدیث:1252۔

سُبۡحٰنَ الله! څنګه ښکلي خبره ده، خو زمونږ حال دا دے چې اذان اوشي، جُمات ته لاړ شو، لمونځ اوکړو او زر بيرته لاړ شو، او دا هُم ډير کم خلق کوي کنې اکثريت خو د لمانځه هُم پروا نه کوي، الله پاک دې هغوئي ته هُم توفيق ورکړي او د ټولو په حال دې رحم اُوفرمائي. خو حال دا دے چې کوم خلق جُمات ته لمانځه له راځي د هغوئي په جُمات کښې زيات وخت تيرولو ته زړه نه لګي، يعني معامله بالکل اُلټه ده، ځکه چې زمونږ خوږ آقا کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: جُمات خپل کور جوړ کړئ!!! او زمونږه حال داسې نه دے.

❁ حضرت سعيد بن مُسَيّب رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: بنده چې تر څو پورې په جمات کښې اوسي، فرښتے د هغه دپاره د بخښنې دعاګانې کوي. (1)

سُبۡحٰنَ الله! الله پاک دې مونږ ته جُمات سره پخه وابستګي راعطا کړي.

## ❁2❁ دويم ښکلے عادت: جُمات ته وړومبے راتلل او روسته تلل

د الله والؤ دويم ښه عادت دا دے چې جُمات ته به د ټولو نه مخکښې راتلل او د ټولو نه روسته به تلل. اللهُ اکبر! خو زمونږه عادت د دې بالکل مخالف دے، نور لمونځونه خو څه چې د جُمعے په ورځ چې يوه نيکي د 70 نيکو برابره وي په دغه مبارکه ورځ هُم مونږه جُمات ته په مشکله د خُطبے په وخت را اورسو او بيا چې څنګه فرض اوکړو نو د دعا انتظار هُم نه کوو، خپلې په ښپو کړو او تښتو!!!

الله پاک دې مونږ ته هدايت نصيب کړي. آمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ځوئ ته جُمات سره د کلک نښتلو تلقين

حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ خپل ځوئ ته نصيحت کښې اُوفرمائيل: ځويه! جُمات ستا کور کيدل پکار دي، بےشکه ما د الله پاک د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان

---

1...تَنۡبِيۡهُ الۡمُغۡتَرِّين، الباب الثالث من جملة اخرى من الاخلاق، صفحه: 137۔

مبارک اوريدلے دے چې جُماتونه د مُتّقيانو (يعنې پرهيزګارو) کورونه دي او د چا کور چې جُمات وي الله پاک د هغه د بخښنې، د رحمت او جَنَّت ته بوتلونکي پل صراط نه په حفاظت سره د تيرولو ضامِن جوړ شي. (1)

## د فرښتو يو څو ښکلي اوصاف

علامه نجمُ الدّين غزِّي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ليکي: جُمات لازم نيول، د عبادت په ذريعه جُمات آباد ساتل، د جُمات طرف ته راتلو کښې تادي کول او ناوخته د جُمات نه وتل د فرښتو پاکيزه اوصاف دي. (2)

سُبۡحٰنَ الله! معلومه شوه چې فرښتے هُم زمونږ جُماتونو ته راځي، دلته د الله پاک تسبيح کوي او کوم بنده چې په کثرت سره جُمات ته راځي، زيات وخت پکښې حصاريږي، فرښتے د هغه سره محبت هُم کوي.

## د جُمات اوتاد

په حديث شريف کښې دي: د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بےشکه د جُمات څه اَوتاد دي (يعنې داسې خلق دي، د کومو په ذريعه چې جُمات آباد اوسي)، فرښتے هغوئي سره کښيني، که دوئي چرته غائب شي نو فرښتے ئې لټوي، که بيمار شي نو تپوس ئې کوي او که په څه مشکل کښې وي نو مدد ئې کوي. (3)

---

1...مصنف ابن ابي شيبه، كتاب الزهد، باب ماجاء في لزوم المساجد، جلد:8، صفحه:172، حديث:1۔

2... حُسۡنُ التَّنَبُّه لِمَا وَرَدَ فِي التَّشَبُّه، و منها لزوم المساجد...الخ، جلد:1، صفحه:265۔

3...مسندِ امام احمد، جلد:4، صفحه:572، حديث:9664۔

## د جُمات د شيدائي دپاره د فرښتو جُلُوس

امام ابنِ مبارک رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په کتابُ الزُّهد کښې رِوايت ذِکر کړے دے: کوم بنده چې د ټولو نه وړومبے جُمات ته د راتللو او په آخره کښې د وتلو عادت لري، د هغه شان دا دے چې کله هغه د جُمات نه اُوځي نو فرښتو جنډه اوچته کړې وي او د هغه نه مخکښې مخکښې روان وي، تر دې چې هغه خپل کور ته اورسي، بيا فرښتے په هم دغه حالت اوسي، تر دې چې کله هغه بيا جُمات ته تللو دپاره د کور نه اُوځي نو فرښتو بيا جنډه اوچته کړې وي او د هغه نه مخکښې مخکښې روان وي. (1)

اللّٰه پاک دې مونږ ته هُم د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر دا سعادت رانصيب کړي. آمين

## ﴾3﴿ د جمات د صفائي سُترائي خيال ساتل

د اللّٰه والؤ دريم ښکلے عادت دا دے چې دا محترم بندګان د جُمات د صفائي سُترائي ډير خيال ساتي. دا هُم د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام سُنّت دي، اللّٰه پاک په قرآنِ مجيد کښې ارشاد فرمائي:

وَ عَهِدۡنَاۤ اِلٰۤی اِبۡرٰهٖمَ وَ اِسۡمٰعِیۡلَ اَنۡ طَهِّرَا بَیۡتِیَ لِلطَّآئِفِیۡنَ وَ الۡعٰكِفِیۡنَ وَ الرُّكَّعِ السُّجُوۡدِ ﴿۱۲۵﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کَنزُالعِرفان : او مونږه ابراهيم او اسماعيل ته تاکيد اوکړو چې زما کور د طواف کوونکو او اعتکاف کوونکو او رکوع سُجُود کوونکو د پاره ښه پاک او صفا ساتئ.

د دې آيتِ مُبارَکه په تفسير کښې مشهور مُفَسِّر، حکيم الاُمَّت حضرتِ مفتی

---

1...کتاب الزہد لا بن المبارک، صفحه:363۔

احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: جُماتونه د ګندګئ او کچرے نه صفا ساتل ډير ضروري دي. ځکه چې د جُمات تعظيم د کعبۂ معظمه په شان دے ځکه د کعبے په شان د جُمات چهت ته بےضَرورته ختل منع دي او د کعبے د صفائئ خو په دې آيت کښې حکم ورکړے شوے دے لهٰذا د ټولو جُماتونو دپاره به هُم دا حُکم ثابتيږي۔(1)

## د جُمات د صفائي عجيبه جذبه

حضرت علي خوّاص رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د **الله** پاک ولي وو، د هغوئي دا عادت مبارک وو چې د ښار نه بهر هٰغه جُماتونه چرته چې هيڅ څوک لـمونځ کوونکے نه وي، مسافران کله کله تيريږي او هلته لـمونځ اوکړي، حضرت علي خوّاص رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به د هٰغه جُماتونو صفائي سُترائي هُم کوله. هغه به ئې جارو کول، د جُمات فرش به ئې پاکولو، د هغې د چت صفائي به ئې کوله، د جُمات اودس خانه، تر دې چې استنجا خانه به ئې هُم صفا کوله. هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دې کار دپاره ورځې مقررې کړې وې، د زيارت او جُمعے په ورځ به سحر وختي د کوره اُووتلو او (تر مانښامه پورې به د جُماتونو په صفائي کښې مصروفه اوسيدلو) بيا به د مانښام د لـمانځه نه پس واپس راتللو. (2)

سُبۡحٰنَ الله! څه ښکلے انداز وو، **الله** پاک دې مونږ ته هُم د جُماتونو صفا سُتهره ساتلو توفيق رانصيب کړي.

د **الله** پاک خوږ حبيب صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوک چې د جُمات نه تکليف ورکوونکے څيز اوباسي **الله** پاک به د هغه دپاره په جَنَّت کښې يو کور جوړوي. (3)

---

1...تفسير نعيمی،پاره:1، البقره،زيرِ آيت:125، جلد:1، صفحه:714۔

2...لَوَاقِحُ الْاَنْوَار،العهد الحادی و العشرون فی المحافظة علی طهارة المساجد،جلد:1، صفحه:142۔

3...ابنِ ماجه،کتاب المساجد و الجماعات،باب تطهير المساجد...الخ،صفحه:130،حديث:757۔

# د جُمات صفائي کوونکې خوش نصيبه صحابيه

يوه صحابيه رَضِيَ اللهُ عَنۡهَا وه، هغې به جُمات جارو کولو، يو ځل داسې اوشول چې خوږ آقا، مکّي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د ډېرو ورځو پورې اُونه ليدله، صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنۡهُم نه ئې تپوس اوکړو: هغه جارو وهونکې ښځه څه شوه، صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنۡهُم عرض اوکړو: يا رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هغه وفات شوې ده. رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا واوريدل نو خفه شولو، اُوئې فرمائيل: تاسو ما ته خبر ولې نه وو راکړے.

بيا خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې قبر ته تشريف يوړلو او هغې ته ئې آواز اوکړو او تپوس ئې ترينه اوکړو: تا کوم عمل زيات فضيلت والا اوموندو؟ د قبر دننه نه آواز راغلو: يا رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما د جُمات د صفائي کول زيات فضيلت والا عمل اوموندو. (1)

**الله** پاک دې مونږ ته هُم د عمل کولو توفيق راکړي، کاش چې مونږه هُم د جُمات صفائي سُترائي کوو. زمونږه دلته نن صبا د جُمات د صفائي دپاره خادم ساتلے کيږي، دا هُم صحيح ده، جائز ده، البته چې کله هُم موقع ميلاو شي مونږ ته پخپله هُم د جُمات د صفائي سعادت حاصلول پکار دي، کله د جُمات صفونه اوڅنډئ، کله د جُمات اودس خانه صفا کړئ تر دې چې د جُمات استنجاخانے صفا کول هُم يقيناً د سعادت خبره ده، که څه ډکے پروت وي هغه راپورته کړئ، زمونږ د شيخ طريقت اميرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا ابو بِلال محمد اِلياس عطّار قادري رَضَوِي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه عادت مبارک دے چې هغوئي ځان سره په جيب کښې شاپر [د پلاسټک تهيلئ] ساتي، چې په جُمات کښې چرته ډکے يا وينښته وغيره اُووينې نو راپورته ئې کړي او په هغه شاپر کښې ئې واچوي. (2) په داسې انداز

1...الترغيب و الترہيب، کتاب الصلاة، الترغيب فی تنظيف المساجد...الخ، صفحه:103، حديث:4۔

2...پيکرِ شرم وحيا، (تذکرهٔ امير اهلسنت، قسط:7)، صفحه:17۔

اختیارولو هُم د جمات د صفائي ثواب ګټلے شئ. **اللّٰه** پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راکړي. اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

## ﴿4﴾ د جُمات احترام کول

د جُمات متعلق د **اللّٰه** والؤ چې کوم ځلورم ښه عادت دے هغه دے: **د جُمات احترام کول.** دا ډیر ضروري دي ځکه چې د جُمات د بے ادبئ کولو په سبب د نیکو ضائع کیدلو سخته خطره ده.

زمونږه بزرګانِ دینو، د **اللّٰه** پاک نیکو بندګانو به د جُمات ډیر زیات ادب و احترام کولو. ❁ یو بزرګ رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: ما په جُمات کښې د څه څیز سره نه کله ډوه وهلې ده او نه مې په جُمات کښې کله ښپې خورې کړي دي او نه مې پکښې کله دُنیوي خبرې اترې کړي دي[1] ❁ حضرت خلف بن ایوب رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه په جُمات کښې ناست وو نو یو هلک ترینه د څه دُنیوي خبرې تپوس اوکړو، دوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه پاڅیدلو او د جُمات نه بهر ئې تشریف یوړلو او د هغه د خبرې جواب ئې ورکړو، چا ترینه د دې سبب تپوس اوکړو نو اوئې فرمائیل چې زه په جُمات کښې دُنیوي خبره کول ناخوښوښه ګڼم[2]

**اللّٰه** پاک دې مونږه هُم په جمات کښې د دُنیوي خبرې کولو نه په امان کښې اوساتي. آمین.

## د یو ولئ کامِل یو څو مبارکې اداګانې

❁ د یو ولئ کامِل عادت مبارک وو چې کله به جُمات ته راتللو نو د کور نه به په اوداسه کښې راتلو، په بے اودسه حالت کښې به ئې د جُمات د دروازے نه دننه تلل هډو

---

1...تَنْبِیْهُ الْغَافِلِیْن، باب حرمة المساجد، صفحه:174۔

2...تَنْبِیْهُ الْغَافِلِیْن، باب حرمة المساجد، صفحه:174 ملتقطًا۔

ښه نه ګڼل(1) ❁ چې کله به ئې جُمات ته تشریف راوړلو نو د جُمات د بے ادبئ له ویرې به ئې بدن په لړزان شو(2) ❁ چې کله به د لـمانځه وغیره نه فارغه شو او د جُمات نه به وتلو نو وئیل به ئې: ټول صفات ﷲ پاک لره دي چا چې ما ته په جُمات کښې د سلامتئ سره (یعنې د جُمات د بے ادبئ نه د بچ کیدلو) توفیق راکړو. (3)

اللّٰهُ اکبر! څنګه عجیبه ښکلے انداز وو، مونږ له هُم د جمات د ادب پوره پوره خیال ساتل پکار دي او د جُمات د ادب معلومات حاصلول پکار دي، یقیناً مونږه جُمات ته د نیکو ګټلو دپاره راځُو خو د معلومات د کمي په وجه د جمات په بے ادبئ کښې اخته شو او د نیکو ګټلو په ځائے خپلې کړې نیکئ هُم ضائع کړو.

ﷲ پاک دې مونږه د جُمات د بے ادبئ نه په حفاظت کښې اوساتي. آمین

# د جُمات د بے ادبئ یو څو صورتونه

## ﴿1﴾ په جُمات کښې د دُنیا خبرې

د جُمات د بے ادبئ یو څو حالتونه بیانیږي لِـهذا په غور سره واورئ او دې نه د بچ کیدلو د پوره پوره خیال ساتلو کوشش کوئ. مثلًا ❁ په جُمات کښې دُنیوي خبرې کول د جُمات سخته بے ادبي ده. په تفسیر مَدارِک شریف کښې دي چې د حضور رحمتِ عالَم صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: په جُمات کښې د دُنیا خبرې نیکئ داسې اُوخوري څنګه چې خاروے ګیا اُوخوري(4) ❁ د حضورِ انور صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډک فرمان دے: "یو زمانه به داسې راشي چې خلق به په جُماتونو کښې د دُنیا خبرې کوي تاسو هغوئي

---

1... لَوَاقِحُ الۡاَنۡوَار، العهد العاشر فی اکرام المساجد، جلد:1، صفحه:114۔

2... لَوَاقِحُ الۡاَنۡوَار، العهد العاشر فی اکرام المساجد، جلد:1، صفحه:114۔

3... لَوَاقِحُ الۡاَنۡوَار، العهد العاشر فی اکرام المساجد، جلد:1، صفحه:114۔

4... کشف الخفاء، جلد:1، صفحه:315، حدیث:1119۔

سره مه کښېنئ ځکه چې د هغوئي **اللّٰه** پاک سره هیڅ کار نشته"[1] ❁ امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه نقل کوي: څوک چې په جُمات کښې د دُنیا خبره اوکړي، **اللّٰه** پاک دې د هغه د څلوېښتو کالو (نیک) اعمال برباد کړي. [2]

## ﴿2﴾ په جُمات کښې خاندل

❁ هُم دغسې په جُمات کښې خاندل هُم د جُمات د احترام خلاف دي خو خلق په جُماتونو کښې په زوره زوره خاندي. په **حدیث شریف** کښې دي: سرکارِ عالي وقار مکّي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: جُمات کښې خاندل په قبر کښې تیاره ده (یعني په قبر کښې تیاره راولي) [3] .

## د مُسکي کیدلو، خاندلو او قهقهه لګولو تعریفات

اللّٰهُ اکبر! چې په جُمات کښې د خاندلو دا حال دے نو هلته به قَهقَهه لګول څومره لويه ګناه وي؟ خو په جُمات کښې ضرورتاً مُسکي کیدل منع نه دي، مُسکي کیدل دې ته وائي چې [غاښونه خو اوځلیږي مګر] آواز نه پخپله واوري او نه ئې خوا ته کس واوري. [4] او د خاندلو تعریف دا دے چې خپل آواز پخپله واوري خو خوا ته کس ئې وانوري. [5] او قهقهه په دومره آواز کښې خاندلو ته وائي چې که بل کس [ئې خوا ته] وے نو هغه به هُم اوریدلے وے. [6] سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله هُم قَهقَهه نه ده لګولې. [7]

---

1...شُعَبُ الایمان، باب فی الصلوات جلد:3، صفحه:86، حديث:2962۔

2...فتاویٰ رضویه، جلد:16، صفحه:311۔

3...مسندِ فردوس، جلد:2، صفحه:431، حديث:3891۔

4...کتاب التعریفات، صفحه:113۔

5...کتاب التعریفات، صفحه:211۔

6...کتاب التعریفات، صفحه:261۔

7...وَسَائِلُ الوُصُوۡل، الباب الثانی، الفصل الثامن، صفحه:97۔

## ﴿3﴾ جُمات بدبوداره کول

❁ هُم دغسې جُمات د هر قِسمه بدبوئي نه ساتل واجب دي او په جُمات کښې بدبُوئي خورول سخت ناجائزه دي. تر دې چې که د چا د خُلې نه بدبُوئي راځي نو **جُمات ته داخليدل حرام دي** ❁ کچه مُولۍ، کچه پياز، کچه اُوږه او هر هٰغه څيز چې د هغې بُوئي ناخوښه وي، هغه چې اوخوري نو جُمات ته تر هٰغې پورې داخليدل منع دي ترڅو چې ئې د لاسونو يا خُلې وغيره نه بدبوئي ځي ځکه چې ملائکه [يعني فرښتو] ته د هغې نه تکليف رسي. دغسې جُمات ته کچه غوښه او د خاورو تيل او د ماچس هٰغه تيلے چې د هغې د مرلو سره بوئي پيدا کيږي دا څيزونه وړل ناجائزه او حرام دي. په حديث شريف کښې دي: جُمات ته کچه غوښه وړل جائز نه دي. (1) حالانکه د کچه غوښې بوئي ډير کم وي. (2)

## ﴿4﴾ خيرَنې کپړے په غاړه جُمات ته تلل

❁ هُم دغسې خيرنې کپړے اغوستې جُمات ته تلل نه دي پکار، ځکه چې بعضې وخت د دې نه هُم بدبُوئي خيژي، هسې هُم جُمات ته په خيرنو جامو کښې راتلل د يو با ادبه کس لائق نه دي، مونږه چې دفتر ته ځُو يا څه د واده وغيره دعوت له ځُو نو ښې صفا سُتره کپړے واچوو نو سوچ اوکړئ چې د خپل **رب** تعالٰی بارګاه ته په څومره صفا او خوشبوداره لباس کښې حاضريدل پکار دي.

---

1...ابنِ ماجه، کتاب المساجد و الجماعات، باب ما يکره فی المساجد، صفحه:129، حديث:748۔

2...فتاوىٰ رضويه، جلد:16، صفحه:232۔

## ﴿5﴾ ماشومان جُمات ته راوَستل

- هُم دغسې واړه او ناپوهه ماشومان هُم جُمات ته راوستل د جُمات د آدابو خلاف او ناجائزه دي. په **حديث شريف** کښې دي: جُماتونه د ماشومانو او لیونو او اخستلو او خرڅولو او جګړې او آواز اوچتولو نه اُوساتئ. (1)

## ﴿6﴾ د نظافَت خيال نه ساتل

- هُم دغسې په جُمات کښې د هر قِسمه کچره اچول هُم بے ادبي ده. تر دې چې په جُمات کښې معمولي شان ډکے هُم نه شئ غورزولے. عُلَماء فرمائي: په جُمات کښې چې معمولي شان ډکے يا ذَرّه هُم اوغورزولے شي نو د دې نه جُمات ته دومره تکليف رسي څنګه چې انسان ته په خپله سترګه کښې د معمولي شان ډکي يا خزلې غورزيدلو نه تکليف رسي (2) - هُم دغسې په جُمات کښې د اوداسه د اندامونو نه د اوبو څاڅکي غورزول هُم ناجائزه او ګناه ده (3) خلقو ته د دې هېڅو معلومات نه وي اودس اوکړي او دغسې په لاسونو څنډلو څنډلو جُمات ته ننوځي او په جمات کښې د اوداسه د اوبو څاڅکي کيږي، لـمدي ښپې د جُمات په قالين او چټايانو روان وي دغسې قالين هُم خيرنيږي، د دې نه ځان ساتل پکار دي.

## ﴿7﴾ په جُمات کښې شور کول

- هُم دغسې په جُماتونو کښې شور شغرب کول هُم د جُمات بے ادبي ده. تر دې چې په جُماتونو کښې منډې وهل يا په زوره قدم ايښودل، چې د هغې سره آواز پيدا شي دا هم منع

---

1…ابنِ ماجه، كتاب المساجد و الجماعات، باما يكره في المساجد، صفحه: 129، حديث: 750۔

2…جذب القلوب، صفحه: 222۔

3…فيضانِ نماز (فيضانِ سنت جلد: 3 كا ايک باب)، صفحه: 244۔

دي. لِـهذا مونږ ته د دې هُم خیال ساتل پکار دي. د جُمات په فرش څه ځیز په زوره غورزول نه دي پکار، هُم داسې په څادر یارومال باندې د جُمات فرش داسې مه څنډئ چې آواز پیدا شي (د جُمات صفائي کوونکو ته د ډیر احتیاط نه کار اخستل پکار دي). (1)

الله پاک دې مونږ ټولو ته جُمات سره پخه وابستګي رانصیب کړي، الله پاک دې په جُمات کښې زمونږه زړونه اولګوي. کاش! چې مونږه جُمات ته په کثرت سره تلونکي راتلونکي او هلته زیات وخت تیروونکي جوړ شو. الله پاک دې مونږ ټولو ته د جُماتونو د احترام کولو، د دې د آباد ساتلو، د دې د صفائي سُترائي خیال ساتلو او د دې د هر قِسمه بے ادبئ نه د بچ کیدلو توفیق رانصیب کړي. آمِیْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په 12 دیني کارونو کښې یو دیني کار: مدني قافله

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! د نیک جوړیدو، د ګناهونو نه د بچ کیدو او د دې په ذریعه د الله پاک د محبت حاصلولو د کوشش کولو د پاره د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اسلامي په مدني قافلو کښې د سفر کولو معمول جوړ کړئ، د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د عاشقانِ رسول صحبت درمیلاو شي، د علمِ دِین زده کول به درنصیب شي، د نیکو کولو، د ګناهونو نه د بچ کیدو ذهن به مو جوړ شي او د ټولو نه اهمه خبره دا چې د سُنتِ انبیائے کرام علیهِم السّلام یعني د نیکئ د دعوت عام کولو موقع به درنصیب شي.

## د ګناهونو نه نجات میلاو شو

د یو اسلامي ورور د بیان خلاصه ده: زه د دعوتِ اسلامي دیني ماحول ته د راتللو نه

---

1 ...فیضانِ نماز (فیضانِ سنت جلد:3 کا ایک باب)، صفحه:244 خلاصةً۔

مخکښې د ګناهونو په کندو کښې سرګردانه ګرځېدم، شراب څښل، مور پلار تنګول، لمونځونه قضا کول زما معمول وو. يوه ورځ زما خوږئي ما ته په مدني قافله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، ما د لم ليټ نه کار اخستو خو هغه هِمّت اونه بيلو او پرله پسې ئې دعوت راکولو، آخر زه يو ځل د مدني قافلے مسافر جوړ شوم، د مدني قافلے په موقع د نيکئ د دعوت او د سنتو نه ډکو بيانونو اوريدو موقع راته ميلاو شوه، ورسره ورسره راته د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د مختفلو رسالو لوستلو سعادت هُم رانصيب شو، بس د دې ټولو څيزونو په ما باندې داسې اثر اوشو چې په زړه کښې مې انقلاب راغلے، ما د ګناهونو نه ربښتونې پخه توبه کړه، شراب مې پريښودل، لمونځونه مې شروع کړل او د مور پلار فرمانبردار جوړ شوم، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د مدني قافلے په برکت ما ګيره هُم پريښوده، عمامه مې هُم په سر کړه، او اوس زه په يو جُمات کښې مؤذِن يم او پينځه وخته لمونځونه د جَمعې سره د ادا کولو سعادت حاصلووم. (1)

| | |
|---|---|
| اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہیئے گر تمہیں قافلے میں چلو |
| گر مدینے کا غم، چاہیئے چشمِ نَم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو |

**صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ”ماهنامه فيضانِ مدينه“ ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اسلامي د آئي ټي ډيپارټمنټ له خوا ماهنامه فيضانِ مدينه ايپلي کيشن جاري شوے دے، په دې ايپلي کيشن کښې تر اوسه پورې جاري شوې ماهنامے په ***PDF*** شکل کښې موجودې دي، د دې نه

1...شرابی مؤذن کیسے بنا؟، صفحہ:15.

علاوه ❀ د ټولو ماهنامو مضامين (آرټيکلز) په تحريري شکل کښې موجود دي، چې هغه د کاپي کولو په ذريعه شيئر کيدے هم شي ❀ د سهولت دپاره سرچ آپشن (***Search option***) هُم ورکړے شوے دے چې د دې په مدد په ټولو ماهنامو کښې کوم مضمون غواړئ لټولے شئ. تاسو هُم په خپل سمارټ فون کښې دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ (***Download***) کړئ! پخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ.

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د بعضو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِىْ فَقَدْ اَحَبَّنِىْ وَمَنْ اَحَبَّنِىْ كَانَ مَعِىْ فِى الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوکړو هغه زما سره محبت اوکړو او چا چې زما سره محبت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي. [1]

سينه تيری سُنّت کا مدينه بنے آقا! | جَنّت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## عيادت (يعني د بيمارتپوس کول) سُنَّتِ مصطفٰے دے

دوه فرامينِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: (1) خوک چې د مريض تپوس کوي هغه د جنّت په باغ کښې کښيني، کله چې هغه اودريږي نو 70 زره فرښتې د شپې پورې د هغه د پاره دُعا کوي.[2] (2) خوک چې د ثواب په طمع د خپل مسلمان ورور تپوس اوکړي، هغه به د دوزخ نه د 70 کالو په فاصِله لرې کړے شي.[3]

---

[1]...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343.

[2]...شعب الايمان، مريض کی عيادت کا باب، جلد:6، صفحه:531، حديث:9171۔

[3]...ابو داؤد ،کتاب:جنائز ، باب :وضو ميں عيادت کی فضيلت، صفحه: 500، حديث:3097۔

**اے عاشقانِ رَسُول!** د مریض تپوس کول سُنَّتِ مصطفٰـی صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکه سُنَّتِ انبیاء دے ❁ د خوږ نبـي رسولِ هاشمي صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک وو چې د کوم یو صحابي (رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ) د بیمارئ خبر به ورته میلاؤ شو نو هغوئي صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه د تپوس د پاره تشریف وړلو ❁ که چرې یو کَس به 3 ورځې جُمات ته رانغلو نو هغوئي صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغه په باره کښې د خلقو نه پوښتنه کوله، که چرې هغه به بیمار وو نو د هغه تپوس له به تللو[1] ❁ او که چرې د تپوس کولو د پاره به د مدینے منورې آخري سر ته هم تلل وو نو هغوئي صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به تشریف وړلو او دخپلو صحابه کرامو (رَضِيَ اللهُ عَنۡهُم) تپوس به ئې کولو.[2]

❁ مشهور مُفَسِّرِ قُرآن حضرت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د حُضُور صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اخلاقِ کریمه نه دي چې هغوئي صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هر مالداره او غریب تپوس له د هغوئي کور ته تشریف وړلو.[3] ❁ د حُضُور صَلَّى الله عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک دا وو چې کله به ئې د مریض د تپوس د پاره تشریف یوړلو نو فرمائیل به ئې: لَا بَاۡسَ طَهُوۡرٌ اِنۡ شَآءَ الله (یعني هیڅ باک نشته که الله پاک اوغواړي نو دا مرض (د ګناهونو) نه پاك کوونکے دے) د یو اعرابي (یعني د کلي اوسیدونکي) د تپوس د پاره ئې تشریف یوړلو نو دا [کلِمات] اوئې فرمائیل: لَا بَاۡسَ طَهُوۡرٌ اِنۡ شَآءَ الله.[4]

د مختلفو سنتونو زده کولو د پاره د مکتبةُ المَدینه **بهارِ شریعت** جلد3 نه حِصَّه 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو کتاب **550 سنتیں اور آداب**

[1]...مسند ابی یعلی، جلد:3، صفحه: 141، حدیث: 3429۔

[2]...مسلم، کتاب: جنائز، مریض کی عیادت کا باب، صفحه: 331، حدیث: 925 خلاصةً۔

[3]...مرآة المناجیح، جلد: 2، صفحه: 407۔

[4]...بُخاری، کتاب: المناقب، صفحه: 919، حدیث: 3616۔

او رساله **بيمار عابد** واخلئ او اولولئ ئي! د سنتو زده كولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مدني قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر كول هم ده.

لُوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو
ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل كولو توفيق راعطا كړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَصَحْبِہٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره ڪم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1]

1 . . . افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ السادسة والخمسون، ص۱۵۱ ملخصًا

راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رضی اللہ عنہ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صلّی اللہ علیہ وآلہ وسلّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازے بیرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[2] راځئ چې په شریکه ئې اُووائيو.

---

1 . . . القول البديع، الباب الثاني، ص٢٧٧

2 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُم حيران شو چې دا څوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيكۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمَا نه رِوايت دے چې سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونكي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيكۍ ليكي.[3] راځئ

1 ... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

2 ... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٣٢٩/٢، حديث:٣٠

3 ... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فى كيفية الصلاة... الخ، ٢٥٤/١٠، حديث:١٧٣٠٥

چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الۡحَلِيۡمُ الۡكَرِيۡمُ ، سُبۡحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵